مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۱۰/۱۷

# دا زموږ د اعمالو نتیجه ده

له مولوي حسام الدين حسام صيب مې وپوښتل:

د نن سبا غنيمتونو ته خوشاله يې؟

مبارک په ګيله من انداز وويل: يه، د خوراک پکي چيشی نسته.

ما ويل: و سړيه، تا سره تل د خېټي غم وي. خير که د خوراک څه نشته، برګ جامپران خو شته، ژمی به دي تود تېر شي.

جناب شيبه غلی و، بيا يې وفرمايل: کاش د غنايمو راوړلو وخت کي يې له ما سره مشوره کړې وای.

ما ويل: فرمايش به دي څه و؟

ورو يې وويل: هغه د ويزو ټاپه!

ما ويل: په ټاپه چيش کوې؟

ويل يې: پر خپل او د انديوالانو پر پاسپورټونو مې وهله او سږ ژمی مې د سر درياب ګرم ګرم کبان خوړل او د ډېره اسمعيل خان خوږې خوږې حلواوې.

ما ويل: د تاسي څنګه له اخوا زړه نه صبرېږي؟

سړي په غوسه کي وويل: تاريخ کي درته غټ صفر در حواله سو!

حيران شوم، د علت پوښتنه مې وکړه.

وې فرمايل: تاسي سر نا خلاصه عوام او مکتبيان له شکونو او اعتراضونو ماسپوا بل څه نه لرئ. پيښور او شاوخوا سيمي زموږ د پخوانيو شاهانو ژمني مرکزونه ول.

ما ويل: و مبارکه، نو ستا شاهان هلته په ويزو تلل؟ ته و خپلو مرکزونو ته ويزه غواړې؟

سړی شيبه خاموش شو او بيا يې په مايوسانه انداز وويل:

و دا زموږ د اعمالو نتيجه ده.

نور يې تلفون کټ کړ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ